

Vlaanderen
is zorg

# نري رنځ

AGENTSCHAP
ZORG & GEZONDHEID



## اړيکي ځنګه او ولې ترسره شوې

هغه خلک چې د ساري نري رنځ لرونکيو ناروغانو په شاؤخوا کې وي د هغوي څېړنه کيږي چې وکتل شي آيا دغه کس ته د ناروغه کس د ناروغۍ سرايت شوی يا هغوي په خپله ناروغه دي. په دغه څېړنه کې د نري رنځ د **پوستکي ازموينه يا د سينې ايکس رې يا دواړه شامل دي.**

د ناروغه کس په شاؤخوا کې اوسيدونکي کسان بايد وڅېړل شي چې د سرايت سرچينه معلومه شي. د رنځور کس سره سم، نرس بايد د هغه کسانو يو لست جوړ کړي د کومو سره چې هغه د تيرو څو مياشتو په ترڅ کې په اړيکو کې و يا وه: د کورنۍ غړي، دوستان، د کار ملګري، د ټولګي ملګري، د يوې مؤسسې يا د تفريحي کلوب غړي.

## آيا تاسو لا زيات معلومات غواړئ؟

د خپل طبيب سره خبرې وکړئ. آيا تاسو لا زيات معلومات غواړئ؟

**www.zorg-en-gezondheid.be** وګورئ يا په خپل ولايت کې "Zorg en Gezondheid" اژانس سره اړيکې ونيسئ:

- **انټورپ:** 03 224 62 04
- **ليمبرګ:** 011 74 22 40
- **شرقي فلينډرز:** 09 276 13 80
- **فليميش برابانټ:** 016 66 63 50
- **غربي فلينډرز:** 050 24 79 00

**www.vrgt.be** وګورئ يا په خپل ولايت کې د فليميش "Vereniging voor Respiratoire Gezondheidszorg en Tuberculosebestrijding" ( د نري رنځ او سږي د روغتيا پاملرنې مؤسسه) (VRGT) سره اړيکې ونيسئ:

- **انټورپ:**
  برچيم: 03 287 80 10 - ټرنهاؤټ 014 41 13 62
- **ليمبرګ:** 011 22 10 33
- **شرقي فلينډرز:** 09 225 22 58
- **فليميش برابانټ:** 016 33 25 25
- **غربي فلينډرز:** 059 70 26 85

ريسپ. ايډ.: Dirk Dewolf, Agentschap Zorg en Gezondheid - 11/2014

Uit het Nederlands vertaalde folder die ook in het Nederlands te verkrijgen is via bovenstaande contactgegevens.

VRGT
Vlaamse Vereniging voor Respiratoire Gezondheidszorg en Tuberculosebestrijding vzw

Agentschap Zorg en Gezondheid
Koning Albert II-laan 35 bus 33
BRUSSEL 1030
**www.zorg-en-gezondheid.be**

**نرى رنځ يو ساري ناروغي ده چې لامل يې تيبوركل بيسيليس يا كوچې بيسيلس دي. په عام ډول دا د سږو د نري رنځ صورت اختياروي، دغه ناروغۍ كله كله په پښتورګو، هډوكو، مغزو، ګليندز يا نورو اعضاء اغيز كوي.**

## تاسو ته سرايت څه رنګه كيږي؟

نرى رنځ په عام ډول تل **د باد له لارې خپريږي**. تيوبركل بيسيلي په باد كې خپريږي كله چې د سږو په نري رنځ كې مبتلا كس ټوخيږي، خبرې كوي يا پرنجي كوي. شاؤخوا كې موجود كسان بايد دغه بيكټيريا د سا اخيستلو سره دننه كړي. كه بيكټيريا په سږو كې داخل شي، دا د معمولي سرايت لامل ګرځي كوم چې په عام ډول په خپله رغيږي خو په ځينې كسانو كې دا بايد وړاندې خپاره شي.

دغه بيكټيريا په وينه يا لامپيټيک رګونو كې هم خپريدى **شي تر څو نورو اعضاء** ته ورسي (پښتورګي، هډوكي، مغزه، ګليندز...) نرى رنځ چيرې هم د شيانو له لارې نه خپريږي (چاړې، كالي، كتابونه، كټ څادرې...)

## نرى رنځ بايد چا ته ولګي؟

نرى **رنځ هر** يو كس ته كيداى شي. خو بيا هم، تنكي ځوانان او هغه خلک چې كمزورى مقاومت لري په آسانۍ د دې قرباني كيداى شي.

## د دې نښې نښانې څه دي؟

د سږي د فعال نري رنځ تر ټولو عامې نښانې دي:

- په تكرار سره ټوخى، اكثر د بلغم سره
- د اشتها كميدل
- د وزن كميدل
- د سينې درد
- (لوړه) تبه
- د شپې په وخت خوله راتلل
- ستوماني

دغه ټول شكايات بايد په يو وخت ښكاره نشي. ځينې خلک بايد په دې كې هيڅ يو شكايت نه لري، خو بيا هم كيداى شي په نري رنځ اخته وي.

## آيا د نري رنځ درملنه كيداى شي؟

هو، د دغې ناروغۍ درملنه په بشپړه ډول كيداى شي. درملنه په عام ډول په درې يا څلور قسمه درملو شمول كوي (انټي بائيوټک).

دغه انټي بائيوټک بايد لږ تر لږه شپږو مياشتو لپاره استعمال شي ځكه چې دغه بيكټيريا ړنګول مشكل وي. درملنه په صحي ډول نه تعقيبول بيا پخواني حالت ته د ستنيدو لامل كيداى شي. دا احتمال شتون لري چې درملنه ډيره مشكل شي كله چې بيكټيريا عام انټي بائيوټک ته مقاومتي شي.

## تاسو د نورو خلكو لپاره كله ساري ياست؟

تاسو ساري ياست كله چې ټيوبركل بيسيلي ستاسو په بلغم كې ښكاره شي. (ساري د سږو نرى رنځ). په هغه پيښو كې چې ټيوبركل بيسيلي په نظر نه راځي، دغه ناروغۍ ته غير ساري د سږو نرى رنځ وييل كيږي. په كوم بل عضو كې د نري رنځ سرايت (د سږو څخه بهر) ساري نه دى.

كله چې تاسو د څو اونيو لپاره په ښه ډول درملنه تعقيبوئ، ټوخى او ساريتوب كميږي، خو ناروغي لا تر اوسه تداوي شوې نه وي. د ټوخي مناسب نظافت هم نورو ته د خپريدو خطر كموي: تاسو بايد تل خپل لاس خلې ته نيولو او له نورو خلكو مخ اړولو سره د كاغذ په ټشو كې ټوخى وكړئ. دغه ټشو د فضله موادو په ټوكرۍ كې وغورځوئ او لاس په اوبو او مايع صابن سره ومينځئ.

